شریعت

اونیزه

د افغانستان د طالبانو د اسلامي تحریك نشراتي ارګان

لومړی کال | خلورویشتمه ګڼه | دوشنبه د ۱۳۷۵ هـ ش کال د جوزا د میاشتې (۲۸) | د ۱۹۹٦ میلادي کال د جون(۱۷) | د۱٤۱۷ ق کال صفر المظفر (۱)

پــه امانت کی خیانت مه کوی

له عباده بن صامت څخه روایت دی چی د الله رسول (صلی الله علیه وسلم) به فرمایل: حتی تار او ستن هم وسپاری، له خیانت څخه ځان وژغوری، دا ځکه چی «خیانت» د قیامت په ورځ پیغور او پښیمانی وی.

(رواه النسائی - مشکوة)

خیانت مه کوی

لوی خدای(جل جلاله) فرمایی: «ای هغو کسانو چی ایمان یی راوړی دی (ای مؤمنانو!) له الله(جل جلاله) او له رسول (صلی الله علیه وسلم) سره خیانت مه کوی. او په خپلو امانتونو کي خیانت مه کوی، حال داچی تاسی پوهیږی چی د امانت ساتل واجب دی.

سورة الانفال: ۲۷

دافغانستان دطالبانو داسلامی تحریك مرستیال ملامحمد ربانی له شریعت او نیزی سره په مرکه کښی:

دکندهار غونډی وښوده چه دهیواد په سلوکی پنځه نوی خلك دربانی داداری مخالف دی

له ټولو هیوادونو، بین المللی مؤسساتواو ملګرو ملتونو څخه غوښتنه کوو چی نور دی د ربانی غیر قانونی اداره په رسمیت نه پیژنی

د حزب او کابل اداری ائتلاف ددی دپاره شوی چی په هیواد کی امنیت ګډوډ او داسلامی شریعت د تطبیق مخه ونیسی

پوښتنه: داسلامي تحریك محترم مرستیال صاحب: په قندهارکې دجهادي مشرانو غونډه چې دتحریك په بلنه جوړه شوې وه پای ته ورسیده. له دغې غونډې څخه تاسو څومره مطمین یاست او څه هیلې ورڅخه لرئ؟

ځواب: قندهار ته دجهادي مشرانو بلنه ددې دپاره شوې وه چې دهیواد دروان بحران په هکله یو بل سره مشوري وکړو او په ګډه سره دمشکل دحل دپاره یوه لاره را او باسو او مظلوم ملت ته له دغې تراجیدي یا غمیزې څخه نجات ورکړو. الحمد لله موږ یو بل سره په زړه پوري مشوري وکړې، تا سو ولیدل چې دجهاد ډېرو مشرانو: مولوي صاحب محمدنبي محمدي، مولوي محمد یونس (خالص) پیر صاحب سید احمد ګیلاني، حضرت صاحب محمد امین مجددي او دتحریك مشرانو په غونډه کي ګډون وکړ او دبحث او مباحثې نه وروسته یوه فیصله لاسلیك شوه چې درباني حکومت غیر شرعي او غیر قانوني دی، ژرترژره باید حکومت پرېږدي او دقدرت انتقال ته اماده شي او دغه فیصله وروسته دهمغږي شوري مشر حضرت صاحب صبغة الله مجددي سل په سلوکي تایید کړه. چې په حقیقت کې دغه درباني دتش په نوم اسلامي دولت په خلاف دملت درایو اچول (پوښتنه) وه؟ دکندهار غونډې وښوده چې دهیواد په سلوکي پنځه نوي خلك درباني داداري مخالف دي د ده څخه یې د قدرت دسمدستي لرې کېدلو غوښتنه وکړه. ددې معنې ... داده چې ملت دطالبانو دا... تحریك ملګري او ملاتړي

۳مخ

پروفیسور حضرت صبغت اله «مجددی» په کندهار کي:

د ربانی اداره د فساد یوازینی سبب دی

له کومې ورځې نه چې ربانی د جمهوری ریاست پر چوکی ناست دی افغانان له بدبختی سره لاس او ګریوان دی

له کندهار څخه زموږ خبریال خبر ورکوي چې د هماهنګی شورۍ رئیس او د نجات ملي جبهې مشر پروفیسور حضرت صبغت الله «مجددی» د جوزا په ۲٦ نیټه د شپې په ورځ په کندهار کې د طالبانو د اسلامي تحریك له مشرانو سره دهیواد د روانو حالاتو په اړه اوږدې او هر اړخیزې خبرې وکړې. خبریال زیاتوي حضرت صاحب وویل: چې ربانی باید له قدرت څخه استعفی ورکړي ځکه چې دده په وجود کې هیواد ته امن نه شي راتلای او دجګړې یوازینی عامل درباني اداره ده

٤مخ

جلسه، هرات بخاطر جلوګیری بحران اقتصادی دایر ګردید

خبر نګار ما از ولایت هرات اطلاع میدهد که در آن ولایت بخاطر جلوګیری بحران اقتصادی جلسه دایر ګردید.

درین جلسه که تحت ریاست ملا عبدالحق دایر ګردیده بود قنسل های دولت دوست یعنی پاکستان، ایران و ترکمنستان نیز اشتراك ورزیده بودند.

خبر نګار می افزاید بخاطر جلوګیری مشکلات اقتصادی فیصله بعمل امد که دو باره، خواسته های این مردم که عبارت از مواد خوراکه، تیل، ګاز و صابون اند به قیمت ارزان دول دوست متذکره همکاری خود را دوام خواهد داد.

امیر المومنین په هیواد کی د نظامی او امنیتی چارو د لاښه والی په اړه مسئولینو ته لازمی لارښوونی وکړی

له کندهار څخه زموږ خبریال خبر راکوی چي د کندهار د عالی شوری په میلمستون کي د امیر المؤمنین په مشری د طالبانو د اسلامي تحریك د عالی شوری غونډه وشوه.

غونډه د عظیم الشان قران په تلاوت پیل شوه او بیا په هیوادکي د نظامي چارو په باب مفصل بحث وشو.

خبریال زیاتوی چی د هیواد د نظامی او امنیتی چارو دلا ښه والي په اړه میرالمؤمنین ملا محمد عمر (مجاهد) مسئولینو ته لازمي لارښوونې وکړې او په هـراد کی یې د نظامی او امنیتی چارو مثبت او منفی اړخونه په ګوته کړل.

د کندهار په مربوطاتو کښی یو ټن هیروین پلورونکی او شپږ تنه پوډریان ونیول شول

له کندهار څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی دغه ښار په مربوطاتو کی یو ټن هیروئین پلورونکی ... شپږ تنه پوډریان ونیول شول.

خبریال زیاتوی چی د کندهار د ښار امنیتی مسئولینو تیره اونۍ یو ټن هغه سړی ونیولو ... د قانون لمنګولو ته وسپارل چی ... مخامخ کاوه

[illegible] ... ورګولو لپاره شرعي محکمې ته سپارل شوی ... له دغو کسانو څخه ترلاسه شوی وو.

په کندهار کښی د ټانکونو په واسطه ٦۰۰ ماینونه خنثی کړای شول

له کندهار څخه زموږ خبریال خبر راکوی چي په تیره اونۍ کي هم د ماین پاکولو پروسه په چټکی سره روانه وه.

خبریال زیاتوی چي د طالبانو د اسلامي تحریك فعالو ځواکونو د ټانکونو په واسطه په کندهار کي ٦۰۰ ماینونه خنثی کړي او په دي توګه یې په تیره اونۍ کي د هغه ولایت په زرګونو زره جریبه ځمکه د ماین له خطر څخه پاکه کړي ده.

خبریال زیاتوی دغه بشر دوستانه پروسه به تر هغه پوري روانه وي تر څو چي په هیواد کي په غوڅه توګه د ماین خطر له منځه یووړل شي.

دکندهار په ښار کی ترافیکی اشاری بیا فعالی شوی

له کندهار څخه زموږ خبریال خبر راکو چی د هغه ښار په واټونو کي ترافیکي اشاری له سره فعالی شوي.

خبریال زیاتوی په هیوادکی د تیرو اتلس کلنو جګړو په جریان کي چي د هیواد هر څه په کنډوالو بدل شوي دي په واټونوکي ترافیکي اشاری هم له منځه تللي او له دی پلوه خلك له زیاتو مشکلاتو سره مخامخ دي

په دی وروستیو وختونوکی د کندهار د ترافیکو آمریت فیصله وکړه چي په ښارکی د ترافیکی مشکلاتو د له منځه وړلو لپاره ددغه ښار ترافیکی اشاری له سره فعالی کړی چی په دي توګه اوس په هغه ښارکي ترافیکي پیښې کمې شوي دي.

مولوی احسان الله (احسان) د شریعت غږ رادیو ته وویل:

حالات د مؤمن ملت او د طالبانو داسلامی تحریك په ګټه دی

حکمتیار د ائتلاف په نتیجه کی په نظامی او سیاسی لحاظ سخته ضربه وخوره.

د طالبانو د اسلامي تحریك د عالي شورا غړي محترم مولوی احسان الله احسان د شریعت غږ راډیو سره مرکه کړي چی کتونکي او لوستونکو د پاره نشر ته وسپارله.

پوښتنه: - که مهربانی وکړی د خپل سفر په باب چه چیرته او په څه منظورتللی وی معلومات راکړی ښه به وی!

ځواب: - زموږ سفر لاندی ولایتونو ته لکه زابل، غزنی، میدان، وردګ، لوګر، خوست، پکتیا او ... ته د امیر المؤمنین په مشوره او هدایت د ملت د خدمت کولو، د تحریك د پرمختګ او د دښمن د پلانونو د خنثی کولو په غرض شوی ؤ او همدا رنګه د یو زراو پنځه سوه علماو کرامو د فتوی د تائید د متبانی علماو کرامو او د مذکوره ولایتونو د مسلمانو او پر دین مینو خلکو څخه د امیر المؤمنین لپاره د بیعت اخستیل چه په اکثره ولایتونو کی د لوی خدای «ج» په فضل دا کار سرته ورسیده، همدا راز د تحریك یو شمیر نورکارونه هم تر سره شول.

۲ مخ

په کندهار کښې پروفیسور حضرت صبغت الله «مجددی» د جمعی له لمانځه څخه وړاندي وویل:

ډیر شکر ګذاریم چی کندهار ته په داسی حال کی ورځم چی دلته بشپړ امنیت ټینګ دی

په کابل کي د ربانی اداره یوه غیر قانونی او غیر شرعی اداره ده چی د افغانستان د تباهی اوبربادی سبب ګرځیدلی ده

د کندهار له ولایت څخه زموږ خبریال خبر راکوی چي د هماهنګی شوری رئیس او د نجات د ملي جبهې لارښود پروفیسور حضرت صبغت الله «مجددی» له وروسته هیئات سره کندهار ته ورسیدل.

خبریال زیاتوی چي پروفیسور حضرت صبغت الله «مجددی» ته په سپین بولدك چمن او تخته پل کي د طالبانو اسلامي تحریك د عالي شوری غړیو او مجاهدینو تود

ص ٤

مولوی فقیر محمد «خنجری» د خلافت مجلی د مسئول مدیر په توګه وټاکل شو

له کندهار څخه زموږ خبریال خبر راکوی چي د امیر المومنین د ځانګړی فرمان له مخی د خلافت د درنديِ مجلي د مسئول مدیر په توګه ټاکل شوی دی.

٤مخ

له کویټی څخه د عصمت (قانع) رالیږلی اخباری بیان.

قاضی حسین احمد د افغانانو تر مینځ جنګ ته لمن وهی

د حزب او کابل اداری ائتلاف د نویو جنګونو د پیل نوی جبهه جوړول دی

د جمعیت اسلامي د ځغورونکی ولی مشر عصمت (قانع) له کویټی نه په یوه رالیږلی اخباری بیان کښې ویلی دی: د حزب او کابل اداری تر مینځ شوی ائتلاف د نویو جنګونو د پیل د پاره یوه نوی جبهه جوړول دی چي د طالبانو د اسلامي تحریك په وړاندی

٤مخ

سرمقاله

د امریکا د مشرانو جرګې بلنه او د واشنګټن غونډه

د امریکا مشرانو جرګې ۱ بهرنیو اړیکو د جرګګی مشر سناتور هینك براون چي څو میاشتي مخکی د سیمي په دوره راغلی ؤ او له افغانی مشرانو سره یې هم لیده کاته کړی ؤ اوس یې د افغانستان د کشالی د خلاصون په نوم افغانی مشرانوته بلنه ورکړې ده چي واشنګټن ته ورشي او هلته په ګډه سره د حل یوه لاره ولټوی، مګر د سیمی له سفرونه وروسته هم دده او هم د رابن رافیل بیانونه ترخه وو او د خوا خوږی نښی پکښې نوی چی ویل یې افغانستان د مخدرو موادو او تروریزم مرکز دی، هلته تروورستان روزل کیږی او داسی نوری خبری وي چی ځمونږه د ستونزو او کړاوونوم هم پکښې نه ؤ او نه یې بلنه کومه دخوا خوږی خبره پکښې وه نو اوس چي په بلنه کی ښکاره اجندا یا د حل کومه طرحه یاده شوی نه ده نو نه پوهیږو دا څنګه بلنه ویولو!

په هر حال: که اوس افغانی مشران دغه بلنه منی او که یې رډوی هغه یې خپل کار دی، پاته شوه دا خبره چی د افغانستان د ستونزو هواری د چا په وړاندي؟ او د چا په غولي شي؟ ټول په دي خبره پوهیږی چي د افغانستان خبره له افغانانو پرته بل هیڅوك اوارولی نه شي، که چیری د افغانستان جهادی مشران ټول په ګډه سره او په یوه خوله دا خبره چي اوس یې په خوله کوی - جنګ د حل لاره نه ده بایده دی چي تفاهم وشی - د زړه له کومې را وباسی، د شخصی او تنظیمی ګټو په ځای اسلامی ګټو او ملی ګټوته، د شهیدانو کرامو (رح) ارمان پوره کولوته، د کونډو، یتیمانو، مهاجرینو او د افغانستان د ټولو مسلمانانو د بدې ورځی ختمولو او ترټولو زیات د کرسی ساتنی لپاره د وینو له تویولو ژغورلو ته ترجیح ورکړی، په خپلو تیرو غلطیو باندی اعتراف وکړی، دغه غولوونکی دعوت دی پریږدی چی (چوکی به نه پریږدو خو د تفاهم لاره خلاصه ده راځی ټول راسره شی) که دغه کار وکړی نو لانجه له پردیو څخه پرته په

(ص ۲)

مسلمانی عقیده

دوهم مخ

یهودیت او بین المللی اړیکی

دوهم مخ

خدمات دینی و اجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور

مشروطیت (ثانی) و آغاز انحراف

صفحه دوم

ګیله له خپله کیږی

ص ۳

د ادب ملغلری

(دریم مخ)

موږ په ټوله نړۍ کی د اسلامی نهضتونو د یووالی غوښتونکی یو

شریعت

د امتیاز خاوند : د افغانستان د طالبانو اسلامی تحریك
د تاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
د لیکوالی هیئت تر کتنی لاندی
مسؤول مدیر : الحاج مولوی احمدجان
تیلفون : ۸٤۰۳۷۸
آدرس : په پیښور کښی د طالبانو اسلامی تحریك نماینده‌ګی
د یوی ګڼی بیه : په هیواد کښی (۲۰۰) افغانی
په پاکستان کښی (۳) کلداری

سرمقاله...

خپله خوله، په خپل غولی له میاشتی نه په لږ موده کی حل کیدای شی ځکه اوس خبره یوازی د ربانی استعفاء ته بنده پاته ده، خپل ـ پردی ټول چیغی وهی چي استعفاء دی وکړي که دغه کار وکړی نو هرڅوك به یو لکه په خبروکی ګډون وکړی هغه څوك چي اعتماد بي ختم شوی دی او د بي باوری له کبله خبروته غاړه نه ږدی د هغوی به هم اعتماد پیدا شي چي کله اعتماد پیدا شی او دخبرو زمینه مساعده شی نو بیا خو هیڅوك هم جنګ د حل لاره نه بولی؛ له بده مرغه له داواړو خبرو او فشار سره سره ربانی لا اوس هم استعفاء نه کوي او هغه څوك چي یوروخت یي د ربانی د استعفاء غوښتنی په نوم ټول کابل کنډواله کړ او په زرګونو مسلمانان یي پکی ووژل هغوی نه هم د ربانی تازه توپونه - چي یوروخت یي له خلکو څخه د ناچلو په نوم لوټل - خراپه ورولګیدل او هلته د هغه ربانی ترځنګ ودریده چي ډیر وخت بي په څلور مذهبه او څلور کتابه ناروا باله، مګر اوس بي اداره، اسلامی دولت بولی او د هغه دساتنی د پاره خپل خلك مرګونی سنګر ته استوی او ډیر خوارکیان بي قربانی کړي. حتی تورکسان هم ټمی او تلوسی اخستي دی کیدای شی هغه هم ورسره یوځای شی، مګر پیسی او چوکی که رښتونی هم وی بقا نه لری باید څوك وریاندي وئه غو لیږي د ټولو افغانانو لپاره ګټوره او په زړه پوري خبره داده چي د لانجی د خلاصون لپاره په هغه نقطه باندي کار وکړي چي د مسئلی د هواری په هکله مرکزی حیثیت لری، هغه د ربانی استعفاء ده او په دي خبره باندی خپل او پردی د زړه له کومی پوهیدلی دی ان تر ربانی پوري؛ اوس دي پخپله دی د نفس اماره غوښتنی بس کړی، په جنی او انسی شیطانانو پسي دي (لاحول ولاقوة...) ووایي، خپله استعفاء دي وړاندي کړی بی ځایه سرټمبګی ته چی دده او هم د اسلام او مسلمانانو په ضرر ده نور دي دوام نه ورکوي؛ دده زاړه او نوي انډیوالان دی ټول په دغه لاره کی کومك ورسره وکړي د دنیا او اخرت له رسوایي او وبال څخه دي نور دی وژغوري؛ هغه وخت بیا ټول په هسکو سترګو دا ویلای شی چي موږ د تفاهم لپاره لاره خلاصه کړه، د حل په لوری مو چټك ګامونه واخیستل نور ځوتونه دی را میدان ته شی چي په ګډه سره اسلامی نظام په ښیږو ودروو، دخپل مسلمان ملت کړمی هواري، د شهیدانو کرامو ارمانونه تر سره او الله تعالی راضی کړو؛

هغه وخت به سناتور براون او نور د انسانی خوا خوږوته ضرورت پاتی نه شی خپل مسلمان ملت او د ټول نړی مسلمانانو ته به په جګو سترګو ګورو الله به مو راضی کړی دي ■

د مسلمانی عقیده

دوه ویشتمه برخه

قاضی خیل

دفقهي تاریخ او څلور مذهبونه

دڅلورم دور دریم توپیر : په دغه دور کی د قرآن مجید حافظان زیښته زیات او داسلامی لوی مملکت په ګوټ ګوټ کی تیت شول لکه څومره چی د قرآن مجید لیکونکی زیات او خواره شول؛ مګر مسلمانانو په هره سیمه کی په څینو مشهورو کسانو باندی دلوړوالی اعتراف وکړ:

۱- په مدینه منوره کی: نافع بن ابی نعیم رحمة الله تعالی چی د ابن عباس (رض) له شاګردانو نه یی قرات اخیستی ؤ او په (۱٦۷هـ) کی وفات شو؛ رحمة الله علیه له ده نه چی روایت کړی دیړدی خو مشهوریی یو؛ عیسی بن مینا (رح) چی لقب یی قالون ؤ او په (۲۰۵هـ) کی وفات شو رحمة الله علیه او بل ابو سعید عثمان بن سعید المصری (رح) چی لقب یی ورش او په (۲۰۷هـ) کی وفات شو (رحمة الله علیه) زیات اهل مغرب دده په قراءت قرآن لولی.

۲- په مکه مکرمه کی: عبدالله بن کثیر (رحمة الله علیه) په اصل دفارس ؤ دده ابن عباس (رض) شاګرد او په قراءت اخیستی ؤ او په (۱۲۰هـ) کی وفات شو (رحمة الله علیه) دده د قراءت په روایت کی مشهور کسان یو؛ ابوالحسن احمد بن عبدالله (رحمة الله علیه) یی بزی یی لقب ؤ او په (۲۰۵هـ) کی وفات شو (رحمة الله علیه) اوبل، ابو عمر محمد رحمة الله علیه چی قنبل یی لقب ؤ اوپه (۲۹۱هـ) کی وفات شو (رحمة الله علیه) دوی دواړو د ابن کثیر (رح) له شاګردانو څخه قراءت روایت کړی.

۳- په بصره کی: ابو عمر بن العلاء المازنی الکازرونی الاصل رحمة الله علیه هم د ابن عباس (رض) له شاګردانو نه قراءت اخستی دی او په علم نحو کی هم امام ؤ په (۱۵٤هـ) په کوفه کي وفات شو (رحمة الله) له ده نه په روایت کی مشهور یحیی ابن المبارك الیزیدی رحمة الله دی، له یحیی نه بیا مشهور روایت کوونکی یو؛ ابو عمر حفص بن عمر الدوری (رحمة الله علیه) چی په (۲٤٦هـ) کی وفات شو (رحمة الله علیه) او بل ابو شعیب صالح بن زیاد السوسی رحمة الله علیه چی په (۲٦۱هـ) کی وفات شو رحمة الله علیه؛ د سوډان اکثر خلك د ابو عمر الدوری په قراءت قرآن مجید لولی.

٤- دشام په دمشق کی: عبدالله بن عامر (رحمة الله علیه) دده دحضرت عثمان (رض) شاګرد او له ابوالدرداء رضی الله تعالی عنه څخه قراءت اخیستی ؤ او په (۱۱۸هـ) کی وفات شو (رحمة الله تعالی علیه) دده دقرات مشهور روایت کوونکی چی په واسطه روایت کوی یو: ابوالولید هشام بن عمادالدمشقی چی په (۲٤۵هـ) کی وفات شو (رحمة الله تعالی علیه) اوبل، ابو عمر و عبدالله بن احمد بن بشیر بن زکوان چی په (۲٤۲هـ) کی وفات شو (رحمة الله علیه)

۵- په کوفه کی: لومړی ابوبکر عاصم بن ابی النجود (رحمة الله علیه) دده دحضرت عثمان، حضرت علی، ابن مسعود، ابی بن کعب او زید بن ثابت (رضی الله تعالی عنهم) له شاګردانو قراءت اخیستی ؤ اوپه (۱۲۷هـ) کی په کوفه کی وفات شو (رحمة الله علیه) له ده نه چی د قراءت روایت کوی په هغوی کی مشهور یو: شعبه بن عیاش الکوفی چی په (۱۹۳هـ) کی وفات شو (رحمة الله تعالی) اوبل حفص بن سلیمان چی په (۱۷۰هـ) کی وفات شو رحمة الله؛ دده په قراءت باندی مصریان او داسیا او نور ډیر مسلمانان قرآن مجید لولی، په کوفکی دوم :- حمزه بن حبیب الزیات (رحمة الله تعالی) د دده قراءت هم دحضرت علی، حضرت عثمان او ابن عباس (رضی الله تعالی عنهم) له لاری څخه دی، په (۱٤۵هـ) کی وفات شو (رحمة الله تعالی) له ده نه مشهور روایت کوونکی یو؛ خلف بن هشام البزار چی په (۲۲۹هـ) کی وفات شو (رحمة الله) اوبل عیسی بن خالد چی لقب یی خلاد او په (۲۲۰هـ) کی وفات شو (رحمة الله تعالی).

په کوفه کی دایم: علی بن حمزة الکسایی چی په اصل د فارس په علم نحو کی هم امام دی، قراءت یی له حمزه بن حبیب (رح) نه اخیستی دی، په (۱۸۹هـ) کی وفات شوی دی (رحمة الله تعالی). له ده نه مشهور روایت کوونکی یو، ابوالحرث اللیث بن خالد چی په (۲٤۰هـ) کی وفات شو (رحمة الله تعالی) او بل د دوری (رح) د عمر و بن العلاء (رح) روایت کوونکی، دغه کسان په قراءت کښی (اوه دقاریانو) شهرت لری چی له توروته په اتقان او ضبط کی لوړ دی، د دی نورو هم دوی ته په شهرت کی ورنژدی دی؛

(۱) ابوجعفر یزید بن القعقاع المدنی چی په (۱۳۰هـ) کی وفات شو، روایت کوونکی: عیسی بن وردان او سلیمان بن جماز (رحمهم الله تعالی).

(۲) یعقوب بن اسحاق الحضرمی چی په (۲۰۵هـ) کی وفات شوی دی، روایت کوونکی یی: رویس او روح دی (رحمهم الله تعالی).

(۳) خلف بن هشام البزار دحمزه بن حبیب روایت کوونکی، د ده روایت کوونکی: اسحاق الوراق او ادریس الحداد دی (رحمهم الله تعالی)، دغو لسوته قراء عشره ویل کیږی؛

څلور نور هم شهرت لری: (۱) محمد بن عبدالرحمن المکی چی ابن محیصن ورته ویل کیږی روایت کوونکی یی: بزی د ابن کثیر روایت کوونکی او ابو الحسن بن شنبوذ دی (رحمهم الله تعالی)؛

(۲) یحیی بن المبارك الیزیدی دابی عمر وبن العلاء روایت کوونکی، له ده نه روایت کوونکی: سلیمان بن الحکم او احمد بن الفرح دی (رحمهم الله تعالی)؛

(۳) الحسن بن ابی الحسن البصری الفقیه، روایت کوونکی یی: شجاع بن ابی نصرالله البلخی او د دوری دعمر وبن العلاء اوکسایی روایت کوونکی (رحمهم الله تعالی)؛

(٤) الاعمش سلیمان بن مهران، روایت کوونکی یی: حسن بن سعید المطوعی او ابوالفرج الشنبوذی الشطوی (رحمهم الله تعالی)؛

ددغو څلورو قاریانو روایت د تواتر درجه نه لری نوځکه قراءت شاذه ورته ویل کیږی

دا واړه قراءت توته په ډیر لږ ډول څایو توکی اختلاف سره لری هغه له دی امله چی په رسم الخط عثمانی کی دهر یوه قراءت احتمال شته دی.

دغه دور لا پای ته نه ؤ رسیدلی چی علم قراءت له دینی علومو څخه یو علم او ددغه فن علما(رح) د کتابونو تألیف پیل کړ چی له اداء او روایت نه یی بحث کاوه.

مولوی احسان الله (احسان) د شریعت غږ راډیو سره په مرکه کی

پوښتنه :- په نوموړو ولایتونو کی چه تاسو له نږدی کتنه وکړه د خلکو د ضعفه څنګه او له اسلامی تحریك سره ئی اړیکی څه ډول وي؟

ځواب :- خلك عموماً ډیر خوشحال او د اسلامی تحریك سره ئی تعلقات او اړیکی کاملاً په زړه پوری او اطمینانی څکه وی چه هر انسان ته د ځان، مال، ناموس او اولاد ساتنه پوره اهمیت لري او هغوي دا خبره قلباً او عملاً درك کړیو، چه ز موږ د ځان مال اولاد او ناموس ساتنه د طالبانو د اسلامی تحریك په بقاء او پرمختګ کی نغښتی ده، خدای دی نکړی که د طالبانو اسلامی تحریك ته مشکلات پیښیږي معنی به ئی دا وي چه زموږ ځان مال اولاد او ناموس به په خطر کي لویږي. لهذا کوم وخت چه به مرکز د علماو کرامو د یوی دلی یا قومی سپین ږیرو او عام ولس سره خبري کولی او د امیر المؤمنین د پاره به مو بیعت ځنی غوښته اقدام او عکس العمل به ئی دومره ولوله خیز او په زړه پوری و، چه دوست او دښمن به ئی دواړه په حیرت کی اچول ډیر داسی مجلسونه وو چه د تحریك په رابطه به بحث کیده او یا به د امیر المؤمنین یادونه کیده د خلکو د سترګو څخه به بی اختیاره اوښکی بهیدی.

پوښتنه :- د حکمتیار ربانی د ائتلاف نه وروسته چه کوم تعرضونه د طالبانو د اسلامی تحریك په ځواکونو باندی وشول دا څنګه په شا وتپمبول شول؟

ځواب :- کوم وخت چه ربانی او حکمتیار د دین د مقابلی لپاره سره متحد او ائتلاف ئی وکړ په مختلفو سیمو کی په مختلفو وختونو کی له مختلفو دسیسو څخه کار واخیست حملی ئی وکړی لکه د پکتیا ولایت د احمد خیلو په ولسوالی، د وردګو د جلګی په علاقه داری کی، د هیښك، چهار آسیاب، میدان شهر او د غرب په سیمو کی. د غور په ولایت کی، انار دره د فراه څخه د غوریانو ولسوالی د هرات څخه خو کامیاب نه شول د دی د پاره چی ځموږ د مجاهدینو لویه وسیله تقوی دیانت د خدای نصرت او د مسلمان ملت ملاتړ و نه یوازی دا چه د شکست سره مخامخ شول او حملی یی شاته وټمبول شوی بلکه د هغوی زیات مرکزونه د هغوی نه تصفیه شول او د طالبانو لاس ته ورغلل لکه د غور ولایت مرکز چغچران او بعضی نوری ولسوالی، د جلګی علاقه داری مربوط مرکزونه په هزاره وو کی او داسی نور په دی ځوابی او تصفیوی عملیاتو کی د ائتلافی ځواکونو ډیر مهمات وسلی او نقلیه وسایل د طالبانو لاس ته ورغلل او هم ئی ډیر ژوندی او مړی د طالبانو په لاس کی پاته شویدی.

پوښتنه :- حکمتیار یوه شپه له بی بی سی سره یخپله مرکه کی وویل چه زموږ ائتلاف د حکومت سره نه بلکه له ربانی سره د جمعیت په سطحه دي او بیا هغه دی په ورستیو تعرضونو کی دده کسان هم برخه لری په دی اړه دده خبری تر کومه ځایه پوری رښتیا دي؟

ځواب :- د حکمتیار صاحب داعمالو او اقوالو د تطابق په رابطه توجه کول او یا په بل عبارت د دوی اعمال او اقوال ارزیابی کول د انسان د تصورنه لوړه خبره ده ځکه حکمتیار صاحب که له یوی خوا دا خبره کوي چه زما اتحاد د جمعیت په سطحه دی خو له بلی خوا دائی هم ویلی چه ټول ملت اوریدلی چه وائی زه به د کابل د حکومت څخه دفاع وکړم هیڅانه به اجازه ورنکړم چه په کابل حمله وکړی پس موږ نه پوهیږو چه د کابل د حکومت په رأس کی څوك دي دغه ربانی او که بل څوك که ربانی وي بیا د ربانی ائتلاف د ربانی د حکومت ائتلاف دی نه بل څه سره ـ

پوښتنه :- د نوموړی ائتلاف به څه ګټه وی او چاته به وی!

ځواب :- د نوموړی ائتلاف څخه ربانی ته جزئی سیاسی ګټه ورسیده نه نظامی او حکمتیار صاحب پر نظامی او سیاسی دګر کی د نوموړی ائتلاف په نتیجه کی سخته ضربه وخوړه - په نظامی دګر کی ضربه، قومندانان ئی خفه شول او هم ئی ډیر خلك په وروستیو ګډو تعرضونو کی مړه شول. او سیاسی ضربه د تکراری بد نامی سره سره یو ځل بیا بد نام شو.

مسلمان او قهرمان ملت هم حساب کوي چه یوواز دي د کابل ښار په توغندیو وریشتل، خلق دي ووژل تا به ویل چه په کابل کی کمونستان دي د کابل اداره د نامقدس ائتلاف په نتیجه کی منځته راغلی زه به تر هغه وخته وسله پر ځمکه نه ږدم چه یو فرد د ملیشی څخه په کابل کی موجود وي باید له هری وسیلی څخه کار واخلم او نن بیا د هغه ربانی سره پداسی حال کی یو ځای کیږی چه د افغانستان ټولو علماو کرامو هغه معزول کړی او هغه ته ئی وخت ورکول ګناه بللی. اوس د ربانی سره یو ځای کیږی صدراعظم جوړیږی پرون ته صدراعظم وي ربانی جمهور رئیس ؤ تخمین د یحوس زړه نفر دی دغه لپاره مړه کړل آیا د ربانی په عمل کی څه اصلاح راغلی محکی خو د ربانی او مسعود غلامی او تابعداری روسانوته واسی سکاره نه وه اوس خو ټول ملت او د نړی ټول مسلمانان په سترګو وینی چه ربانی د روسانو غلام دی د هغو شپیتو زرو قهرمانو افغانانو پوښتنه بی ونکړه چه د روسانو په لاس کی ژوندی بندیان دي او که شهیدان شویدی د کابل د حضراتو پوښتنه بی ونکړه چی ټولی مسلمانی افغانی کورنی پلرونه میندی خویندی وروڼه او زامن اوس هم په انتظار دی. چی زامن به مو راځی وروڼه او پلرونه به مو پیداشي. خو د هغوي اوو، مجرمو بندی روسانو خلاصون په رابطه روسانوته اطمینان ورکوي چه د طالبانو پلاس کی په قهرمان کندهار کی دي. وائي پڅه پریکړي که شرم درلودای د چری نوم به ئي نه اخیسته حکمتیار او ربانی که شرم درلودای یوه به د بل نوم نه اخیسته د ربانی له نظره تر حکمتیار لوی مجرم او ګمراه بل نه و او د حکمتیار له نظره تر ربانی لوی مجرم او

خدمات دینی واجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور

مشروطیت (ثانی) وآغاز انحراف

قلمه، جوادی

قسمت هشتم

از مسجد و مدرسه تا دربار

در شماره های گذشته از نهاد های فکری و محیط تعلیم و تربیه محمود طرزی و منبع الهام جنبش مشروطیت ثانی تذکر چندی بعمل آوردیم و خاطر نشان گردید که جنبش مشروطیت ثانی به الهام گرفتن از جنبشهای فکری ناسیونالیستی ، سیکولریستی عرب وترك میخواستند که عین همان نقشه را در کشور پیاده نمایند و شخصیت محوری وفکری این فعالیتها را که در چوکات مشروطیت ثانی به پیش برده میشد محمود طرزي ورفقای کارشان تشکیل میدادند. لازم است که پیرامون چګونګی فعالیتهاي سیاسي آنها تذکری اجمالی بعمل آریم.

۱- محمود طرزی که بعد از تبعید طولانی از کشور به دعوت امیر حبیب الله به وطن باز گشت در جنبش فکري سراج الاخبار همکار گردید و بعد از انتقال جناب مولوی عبدالرؤف قندهاری «رح» موسس جنبش فکري سراج الاخبار و اعدام مولوی محمد واصف قندهاری «رح» به امر امیر، طرزی فعالیت های سراج الاخبار را از سر گرفت و محوری شد برای فعالیتهای مشروطیت ثانی.

در قدم اول محمود طرزی دو دختر جوان و تحصیل یافته خود را در حباله نکاح شهزاده امان اله خان و شهزاده عنایت الله خان در آورد به این واسطه راهی وسیعی به دربار یافته و سپر دفاعی مستحکمی برای فعالیتهای بعدی فکری و سیاسی خود تشکیل داد و از عقب آن آنچه می خواست به آرامی و سهولت انجام داد و از شر و گزند دربار محفوظ قرار گرفت. در قدم دوم محمود طرزی و گروه پیرو کارش نهاد و مرکزیت مبارزه را که از مسجد و مدرسه آغاز شده بود نهاد و مرکزیت ملوث و پر از فسق و فجور و پایگاه استبداد و ظلم (دربار) انتقال داد درباری که مردم ما دمی از آن طرف خاطره، خوش و نیکویی نداشتند، بلکه یگانه نهاد و مرکز استهلاك کننده، قوت های مادی و معنوی آنها محسوب میگردید و علیه ملت و منافع دینی و ملی اوشان با اجنبیهای کافر و استعمارگر معامله های مخالف عزت، استقلال و عظمت کشور در آن نهاد و مرکزیت انجام می پذیرفت که به این شکل مبارزه و تحریك را از پایه، مردمی و ملی محروم گردانیده در سیاه چالهای هوسهای قدرت خواهی شهزاده ها، غلام بچه ها و تعدادی از سرداران عقده مند مبخ کوب کرده و وسیله، برآورده شدن اهداف شخصی، قبیله وی، فکری و سیاسی آنها گردانید. جنبش مشروطیت ثانی به سه شاخه به طرز دید و وجهٔ مختلف مبارزه تقسیم گردیده و از اهداف اولی تحریك (مشروطیت اول) در بس موارد مخالفت ورزیدند، اما هرسه آن گروه در عین وقت دارای وجهٔ مشترك هدف و مبارزه هم بودند که آن: سقوط رژیم بود.

موارد اختلاف و انحراف از مسیر اول و اهداف اولیه:

الف: وجهٔ و شکل مبارزه مشروطیت ثانی، ناسیونالیستی بوده و خواستار تغییر بناء و اساس نظام سیاسی کشور بر مبنای سیکولریزم و دیموکراسی و جابگزین ساختن قوانین مدنی غربی به جای شریعت اسلامی بود طوریکه در بلاد عرب و ترك جنبشهای فکری ناسیونالیستی آنها که الهام بخش جنبش فکری مشروطیت ثانی بوده بعد از پیروزی چنین کردند. و مشروطیت خواهان افغان هم بعد از پیروزی کودتای امانی به چنین اقدامهای غیر شرعی و ملی دست زدند که در آینده پیرامون آن بحث مفصلی خواهیم نمود. در حالیکه جنبش مشروطیت اول بر مبنای حاکمیت اسلام و از طریق اشتراك مردم در تعیین سرنوشت سیاسی و آوردن و متعارف ساختن اثار مثبت تمدن غرب که متضاد با شریعت و عنعنات ملی کشور نباشد دیگر گونی و تحول سیاسی و اجتماعی را در کشور خواستار بودند و تاکید بر بخش و نشر دعوت و ریشه های آن در میان توده های مردم داشتند. سایر موارد اختلاف و انحراف را از مسیر اولی از قول عبدالحی حبیبی که خود از ناسیونالیستهای طرفدار رژیم کودتای مشروطیت ثانی میباشد بشنویم:

ب- اختلاف در تاکتیك :

حبیبی میگوید: (روشنفکران افغانی عین همان مشروطیت اول را پیروی میکردند تنها با تاکتیك قدری وسعت بخشیدند و در برخی از حلقه های تیزرو رادیکال آن، اقدام به ترور و استعمال سلاح گرم هم جائز شمرده شد... در حالیکه در مرام نامه، مشروطیت اول دهشت افگنی و استعمال اسلحه وزور نبوده است).

ج - غلبه، روحیه پشتونیزمی در مشروطیت‌خواهان‌دوم:

در این باره حبیبی صاحب میگوید: (یکی از خصائص خط مشی گروهی این جمعیت، توجه به تعمیم نوشتن و خواندن در زبان پشتو بود که مکاتبه های شخصی خود شانرا هم به این زبان می کردند...).

د - تخطی از مفاد ماده، دوم مشروطیت اول:

حبیبی صاحب در این مورد استدلال داشته و آن تخطی را چنین بیان و توجیه مینماید:

(در ماده، دوم مرام مشروطیت اول حاکمیت ملی و حکم قانون مطرح بود، چون این کار به انتخاب آزاد و ترتیب قوانین تعلق داشت و فرصتی و مدتی را متقاضی بود، بناء براین جمیعت (ثانی) اجازه میداد که یك شاه انقلابی... میتواند که مدتی کار را موافق مصالح مملکت دوام دهد، تا زمینه را برای حاکمیت ملی و حکم قانون مساعد سازد...)، که این نظر و فکر مشروطیت خواهان ثانی به دو موضوع و مسله اشاره میکند:

۱- مراجعه از فکر ایجاد و آوردن انقلاب به طرف کودتا و ترجیح دادن تغییر کودتایی بر تغییر و دیگرگونی انقلاب عامه، مردمی که انتقال نهاد و مرکزیت تحریك از میان صفوف مردم به حلقه، محدود و ... دربار میتواند مبین این فکر باشد زیرا بناء فکری مشروطیت خواهان و شخصیت مرکزی و محوری آن (محمود طرزی) ناسیونالیستی، سیکولریستی بود که از طریق حاکمیت نظام غربی برجای نظام شرعی اوشان تحول و دیگرگونی سیاسی اجتماعی را میخواستند که در کشور اسلامی و شدیداً معتقد به مذهب همچون افغانستان تعمیل و پیاده نمایند که آن فکر و اندیشه، اجنبی و غیر اسلامی از طریق ملت و انقلاب ملی عملی بنظر نمیرسید. مجبوراً آنها از طریق کودتا خواستند که خود را به هدف رسانیده (زعامت سیاسی کشور را تصاحب نموده) و بزور برچه اهداف مشخص خود را بر ملت مسلمان بقبولانند طوریکه در دیار عرب و ترك چنین شد.

۲- به صحنه آوردن امان الله خان وسیله، برای اهداف بعدی بود:

از لابلای سطوریکه از گفته های حبیبی صاحب نقل کردیم معلوم میگردد که آوردن امان الله خان به صحنه، سیاسی کشور وسیله و یك قدمی برای تحقق اهداف بعدی مشروطه خواهان بوده نه اینکه شخص امان الله خان و رژیم آن برای اوشان رأساً و عیناً مطلوب بوده باشد.

د- مورد اختلاف و انحراف دیگری از مشروطیت خواهان (ثانی) از ص۳

د اسلامی دولت بین المللی اړیکی:

یهودیت او بین المللی اړیکی

مولوی عبدالحکیم «مجاهد»

یهودیت یا دتحریف شوی تورات پیروانو اسرائیلو (یهودو) د تاریخ په اوږدوکی دولتونه جوړ کړی او په نړی باندی یی د حکومت کولو نړیوالی هڅی کړی دی. د دوی تاریخ له سختو جګړو اوله نورو ملتونو سره له نفرتونو څخه ډك تاریخ دی. چی د هغه سبب خپله د دوی محرك مذهبی او ملی عقاید دی، چی ځانونه له نورو ملتونو څخه سه او لوړ بولی. یهودیان عقیده لری چی دوی د الله(جل جلاله) غوره او خوښ ملت دی، د دوی نژاد له نورو نژادونو څخه لوړ او بهتر دی. خدای تعالی نور قومونه او ملتونه د یهودیانو د غلامی او اطاعت د پاره پیدا کړی دی. په بشری ټولنه باندی د لوړ والی او حکومت کولو عقیدی او احساس دغه ملت دی ته هڅولی چی په هر دول او هره لاره چی وی د نړی په اقتصادی سرچینو باندي تسلط او کنترول ترلاسه کړی، له همدی کبله ده چی د دوی دنیا پرستی او له مال او دولت سره لیونی مینی هردول اخلاقی سیاسی او اقتصادی فسادونو ته هڅولی دی. لوی خدای (جل جلاله) د دوی د دنیوی مینی په هکله فرمایی «هرو مرو به دوی (یهودیان) له ټولو خلکونه او حتی له مشرکانو څخه هم د دنیا په ژوند باندی ډیر زیات حریصان ومومی، د دوی هر یو داخوښوی چی زر کاله عمر ولری، په داسی حال کی چی دغه زرکاله دراوی د عمر دده دی له عذابه خلاصولی نشی، الله (جل جلاله) د هغه څه چی دوی یی کوی سه لیدونکی (عالم) دی.» (البقرة-٩٦).

یهودیان د دی دپاره چی اوس عملاً په وروسته له مرګه ژوند باندی عقیده نه لری، په حساب او کتاب، جنت او دوزخ باندی معتقد نه دی، او د دوی ژوند په مادیاتو او دنیوی لذاتو او عیاشیو باندی ولاړ دی، دوری یی د شتمنیو او پیسو په راټولولو او په خلکو باندی د حکومت کولو دپاره هڅولی دی. هتلر په خپل کتاب (ځما مبارزه) کی لیکی: «یهودیان نشی کولای منظم مذهبی تشکیلات را منځ ته کړی، دا ځکه چی نه دوی د دا ډول اصولو غوښتونکی دی او نه خو دوی له دغی نړی نه پرته په بله نړی باندی باور لری. د دوی مذهبی کتاب (تلمود) هیڅکله وروسته له مرګه ژوند ته اشاره نه کوی»، هتلر په یو بل ځای کی د یهودیانو د هغی استعماری دسیسی په هکله چی غوښتل یی آلمان په خپله ولکه کی راولی لیکی: «لومړی یهودیانو په ډیره لږه ګټه خلکوته پور ورکول پیل کړ، په داسی حال کی چی آریایی نژاد (غیر یهود آلمانیان) په دا ډول قرضونو باندی عادی نه ؤو. هغوی ددغه کار په بدو نتایجو باندی نه پوهیدل. خو وروسته کله چی یهودیانو ډیری ولی په مرسته د آلمان ټول تجارت او اقتصاد تر خپلی ولکی لاندی راوست او خپل بدمرغه اهداف یی عملی کړل.... بالآخره نابیره د خلکو احساسات د دوی په خلاف راوپاریدل، د قهر غوټی وچودی، هغه څه وشول، چی باید نه وای شوی...».

یهودانو په ډیر مهارت سره په فلسطین کی همدغه دسیسه پلی کار واچوله، عربان یی په پورونو ... ورخته کړل د دوی ځمکی او جایدادونه یی ورڅخه واخستل او وروو ورو یی هلته دیوه اسرائیلی دولت دپاره د استعماری برطانوی دولت په مرسته چی هغه وخت په فلسطین باندی مسلط وو لاره هواره کړه، روسانو د افرادو او امریکایانو د مال او معاصری تکنالوجی مرسته ورسره وکړه چی په دی توګه ئن په سیمه کی د عربانو او ټولو مسلمانانو په خلاف یو مضبوط یهودی دولت وګرزیده.

د یهودیانو تحریف شوی مذهبی کتاب تلمود، اسرائیلی نژاد په ټولو نژادونو باندی بهتر او افضل بولی، او عقیده لری چی نور ملتونه اصلاً د دوی د خدمت د پاره پیدا شوی دی. زین العابدین قربانی د خپل کتاب «اسلام و حقوق بشر» په ۳۲۰ مخ کی د اسرائیلو ددغه مذهبی کتاب (تلمود) څخه چی د محرف تورات شرح ده ځینی اقتباسات نقل کوی چی په لاندی ډول دی:

«۱- د یهود یانو د ارواګانو امتیاز او ځانګړتیاله غیر یهودیانو څخه په دی باندی ده چی د یهودیانو ارواګانی د خدای(ج) جز دی. لکه څنګه چی زوی د پلار جز وی، د یهودیانو ارواګانی د خدای په وړاندی له نورو ارواګانو څخه خدای ته ګرانی دی. دا ځکه چی د غیر یهودیانو ارواګانی شیطانی او د حیواناتو ارواګانو ته ورته دی.

د غیر یهودی نطفه د نورو حیواناتو د نطفی په شانی ده.

۲- په هر یهودی باندی لازم دی! چی خپلی ټولی هلی ځلی په دی کی وکړی چی د نورو ملتونو د ژوند د پرمختګ لاره بند کړی؛ څو پښیړه ځواك د دوی په لاس کی وی... محکی له دی چی یهود ۳مخ

گیله له خپله کیږی

ابر امان

ما او تا چې کوم هدف ته د رسیدو لپاره شریکه لاره نیولې وه ،ما او تا چې پخپل مخ کې د خندونو له منځه وړلو لپاره ګډې لیچې راپورته کړې وې او ما او تا چې سختو مشکلاتو ته دمې ورکولو لپاره پخپلو کې ژمنه کړې وه اوس تر هغه وخت رارسیدلي دي چې هغه نیولې لار تعقیب کړو اوتر هغه پورې مخ په وړاندې ولاړ شو چې وخت او حالات یې غوښتنه کوي. ګرو‌ه! که درته هیر شوې نه وي او په یاد دې وي هغه وخت چې زه او ته دیوه پاك سپېڅلي مرام لپاره یو بل ته سره نژدې شوو .نو ټولي شخصي غوښتنې مو شاته وغورځولې او دا لوړه مو وکړه چې هیڅ وخت به د ټولو کته له خپلې کېټې څخه نه قرباني کړو ،خپل سَه او بد به دخپلو خلکو په سَو او بدو کې ګورو او په دې ترکه به پخپلو کې د‌ووروري مزې لایسي ټینګوو .هغه وخت لګه دباد لمونډي تیر شو، د هغه وخت تکلیف او کړاو ځانګړي کیف درلوده ، دهغه وخت لوړو او تندو پرخاص خوند درلوده او د هغه وخت اوښکو او وینو دکامیابۍ او بریالیتوب زیري را کاوه، رښتیا هم چې زموږه اوښکو او وینو تر شا دیوې لوبې کامیابۍ زیري پروت و او په ښکاره ورل د دې امکان موجود د چې موږ به هغه سپېڅلي ارمان ته ورسیږو چې د هغه د تر لاسه کولو لپاره راپورته شوي یو ، خو چې زموږ دهیلو کاروان دبریالیتوب په درشل ودرید نو یو شمیر داسې :اړه مارانو پرې داړه و غورځوله چې دا هر څه یې له یو مخې لولپه کړل، زموږ کیلي وباړونه یې تر خاورو لاندې کړل او زموږ هسکه شمله یې داسې ټیټه کړه چې نژدې وه هغه ټول عظمت او بریادي پرېنا کړي چې موږ د ډیرې ستري قرباني په نتیجه کې تر لاسه کړې وې. او دا دې بیاهم په هماغه سپېڅلې هیله او پاك ارمان د امیدونو کاروان مخ په وړاندې روان دي او ته ده چې د دغه ژغوروونکي کاروان له برکته به دغه ټولې نا دودې او ناروا وې له منځه یو وړل شي او دهغه څه لپاره به لاره اواره شي چې زما او ستا او زما او ستا دملت ارزو ده، خو ګوره ستا ټیټ راته هغه شان پاك او صالح نه ښکاري ، داسې برېښي چې اوس ته له هغه چاسره سر خوږوې چې زما او ستا په ویاړونو او بریادۍ داړه لګورځولې ده سټاتیت اوس دهغه چا پر خوا معلومیږي چې زموږ هسکه شمله یې را ټیټه کړې ده او اوس ته دهغه چا پلوي کول غواړې چې زما او ستا دهلو ځلو شریکه ثمره یې په اوبو لاهو کړې ده، خو ګوره داوي باید هیره نه شي چې حق بیا هم حق دي او دخدای د ارشاد له مخې به پر باطل باندي بري پیدا کوي او هغه وخت لرې نه دي چې زموږد امیدونوبوټي به ګلان و ټیسي او زموږ د هیلو پسرلی به غاټون راوټوګوي، خو د پښتو دا متل چې « ګیله له خپله کیږي» به زما او ستا ترمنځ هغه نژدې اړیکې په فاصلو بدل کړي چې تر پرونه پورې مو پخپلو کې در لودل او دا به بیا هغه وخت وي چې پښیماني به څه ګټه نه لري او!

تر ورخ تیري او په بیرته نه جاروزی
نه جاروزی تیرساعت په بیرته بیا

دوینی نذرانه

ملا اسدالله «حنیفی»

زه دجهانیانو ناکردوکړم دیوانه
غواړې چې مې وتړې ولچګ او زولانه
وخت په وخت جوړېږي راته خلکه دسیسې نوې
څوك مې زیبښي وینه څوك مې پلورې رندانه
چامې په ګریوان کښې دغرض لاس راینډ کړې دي
څوك بیاراته بولي د ښکیلونو ترانه
یو خو افتنګرو دفتنو جال غوړولي دي
بل خوامې پوره نه ده دویني نذرانه
یو طرف مې کور نه دوحدت جنازه یارشوله
بل پلو راخومې شول لاسونه بیګانه
ما په هر دګر کښې دطاغوت خونه خرابه کړه
هروخت جنګیدلي یم په نره مردانه
خپل جهد وجهاد به تر هغه پورې جاري ساتم
څو چې پاکه نه کړم له فساده استانه
زه دمیړنی میرویس نیکه په تغر ناست یم
ساتم خپله مینه دمولا په یارانه
زه له(حنیفي} سره اوږه په اوږه تله کوم
دانګوبه لمبوته پتنګ وار او پروانه

د ادب ملغلری

مدینې ته دې درځم

مطمئن

په مینه دي مجنون یم کوڅې ته دي درځم
له اوښکو ډکې سترګې یم روضې ته دي درځم
په در کې دي کړیږمه ګریوان درته شکومه
منګولي لګومه پنجرې ته دي درځم
حبیبه ستا په عشق کې زه ساقي ته انتظاریم
داستادشفاعت ډکي پیالي ته دي درځم
پیاله مې دشرابو په سپیره حنګه چپه کړه
داستادکوثر تږي یم چینې ته دي درځم
سینه به دحجاز په ګرمو تیږو سوځومه
یانه به لګومه مدینې ته دي درځم
انګار.بیلتانه دي انګې راته الوې کړل
سکروټې دهجران پربزدم دیري ته دي درځم
لمرونو دهجران زما دزړه وینې خولي کړي
له لمره به ځان ژغورمه خیمې ته دي درځم
تاړاك دبیلتانه په (مطمئن) باندي تیر شوي
دزړه داطمینان ښکلي شیبې ته دي درځم

شاهین د آزادی

(مګرورا)

اى طالبه بریالیه
ته شاهین د آزادی ئی
پام!!
چی دا کوتره
تا دوکه نه کړی
دادام دی ستا لپاره
چی اسیر دی کړی په دی کی
او
چی جام شی په درشل د آزادی کی
دا!!
دا کوتره سپینه نه ده
دا بل چا پورته کړی
ستانیولپاره
خو ته
ستوری دنیکمرغی یی
رڼا د تروږمی
همداته شاهین د آزادی یی
او همداته
کوتره د سولی
چی زخمی دی نکړی
دا دوه وزری
که نه راوبه لوبیږی له ډیره لری
ستا
د تاریخ پانه باندی
نوم دی روښانه شولو
او ایله اوس دی
عمر جاویدانه شولو

دکابل منظره

م.ا

دویرجن کابل دپاسه توره وریځ دغم خوره ده
هریو ګوټ هره کوڅه یې د ژوندیو مقبره ده
تورو دورو دکوڅو کې یو څو وږي لیوان ګرځي
نه مړیږي نه ورکیږي نه یې چا سره چاره ده
څوك فقیر دي څوك زهیر دي څوك دزوي او لوربه ویرږي
څوك شلموټو کې راګیر دي هره خوا دا منظره ده
تنګیالیوته یو واپی غل رهزن به درته ستایي
په شرمښو رسه پیایي څومره توره دا دوره ده
دوطن مال او ناموس یې ملحدانوته سپارلي
خدای دپاره یده لوبه دجهاد په ثمره ده
مجاهد سره دښمن دي شاو خوا زاغ او زغن دي
خاینان یې سر او تن دي پردو مینه ورسره ده
څوبه دغه حال روان وي څوبه داسې ساروانان وي
څوبه پاتې داکاروان وي ربه تاله اسره ده

افغانه چې بیدار شوی

عبدالقاهر (عابد)

افغانه چې بیدار شوي ننګونه دي پیداکړه
دسرو وینو بهیر کښې رنګونه دي پیداکړه
دستا همت دزوره دنیا خلاصه له بلا شوه
مصبوط چه دي همت کړه همتونه دي پیدا کړه
میږن په آزادي دي چې معلوم شوي ټول جهان ته
ثابت چه پدي لار شوي غور ځنګونه دي پیدا کړه
ویده ملکونه ټول دي دغفلت له خوابه ویښ کړل
پدي عصر زمان کې یا څونونه دي پیدا کړه
تا درس د آزادي ټو لو محکوم ملکوته ور کړ
هم درس دي د ایمان ور کړ در سونه دي پیدا کړه
داستاد توپك زور ډ کمونیزم چې نسکور شو
همداسي نظامونه‌شکستونه دي پیدا کړه.
شرلي دي دملك نه انګریزان لا ډیر پخوا ډو
اوس بیا دي سر کش قوم ته عبرتونه دي پیدا کړه
ستا وینوچه څپې کړلي جهان ته ئې رنګ ورکړ
همداسي سور سیلاب ته بندونه دي پیدا کړه
«عابد» وائي افغانه قیصې دي لا دخوند وي
د دي خوندو د پاسه نور خوندونه دي پیدا کړه .

مولوی احسان الله د ...

ګمراه بل نه ږ.

پوښتنه :- په اوسنیو شرایطو کی په عمومی توګه سیاسی، نظامی او اجتماعی حالات څه ډول ارزیابی کولای شئ؟

ځواب :- ځما په نظر ټول حالات د مؤمن ملت او د طالبانو د اسلامی تحریك په ګټه دي او امید لرو چی دا تحریك به د ملت د خیر لپاره د اسلامی نظام د راوستو په غرض او د مقدس جهاد د هدف د ترسره کیدو په منظور کامیابیږی انشا الله تودی او سړی مخ ته ټګ او شاته تګ به مخ ته راځی خو اخراً هغه څوك به خامخا کامیابیږی چه خدای «ج» منتخب کړی او علماو کرامو تاکلی وي مؤمن ملت حمایه کړی دی، حضرت موسی «ع» خدای «ج» منتخب کړ د مبارکی مور څخه ئی جلا کړ، روه نیل ته ئی و غورځاوه، د دښمن کور ته ئي ورساوه بیا د هغه ځای څخه فرار شو د فرعون د مقابلی سره مخ شو د ساحرانو د مقابلی سره مخ شو بیرته فرار ته مجبور شو خو اخراً ئي دښمن فرعون هلاك او موسي «ع» او قوم ئي بنی اسرائیل پیدا کړ داسي ابراهیم «ع» او نمرود. محمد رسول الله «صلی الله علیه وسلم» او دهغه دښمنان. ربانی او نور ظالمان ملګری یی که خدای نه هلاکولای نو امیرالمؤمنین او ملګری ئی ورته نه پیدا کول.

پوښتنه :- که خپل مسلمان ملت او اسلامی امت ته څه پیغام لرئ؟

ځواب: خپل مسلمان او قهرمان ملت ته می پیغام دادی چه د نیك نامی لاره د دنیا او آخرت د کامیابی لاره خپله کړی کوم امیر چه په ملك کی خدای(ج) منتخب کړی علما کرامو هم د امیر المؤمنین په لقب ملقب کړی او هم ئي بیعت ورسره کړی او پخپله مؤمن ملت هم حمایه کړی او هم ئي بیعت ورسره کړی د هغه پوره اطاعت وکړی په ملك کی د سوچه اسلامی نظام د راتګ لپاره پوره کوښښ وکړی دا چه د دین او ملت دښمنان هلی ځلی کوی چه ګران هیواد اسلامی افغانستان د تجزیی د خطر سره مخ کړی ټول مؤمن ملت باید امیر المؤمنین ته د همکاری او کومك لاس ورکړی تر څو قهرمان افغانستان د تجزیی له خطر څخه وژغورو داسی یو واحد اسلامی افغانستان جوړ کړو چه د نړی مسلمانانو د پاره کور وی او د کفارو په مقابلی کی یو فولادی نه ماتیدونکی سنګر وی او د نړی مسلمانانو ته می پیغام دادی چی پخپل منځ کی د اخوت او ورور ی فضا را مینځ ته کړی تر څو په عقیدوی، مادی او نظامی لحاظ ازاد شو د نړیوال جهانګیر کفر په مقابلی کی یو نړیوال جهانګیر اسلامی صف جوړ کړو
واسلام علیکم و رحمته الله و برکاته

د یهودیت ...

په نورو ملتونو باندي بریالي شي، پکاره‌ده چې جګړې په خپل حال پاتې وي.

۳- یهودیان د خدای(ج) په وړاندې تر ملائکو لوړ دي، ګله چې غیر یهودي راپاڅیږي او یهودي ووهي، دا داسې ده چې ګواکې د خدای عزت یې وهلی دی! او په دي د مرګ مستحق دی! که یهودي نه وای پیدا شوی برکت به له ځمکې نه تللی وای، او باران به نه وای اوریدلی، لمر به نوای پیدا شوی!...

نور ملتونه د سپو په شانې دي، خوشحالي او اخترونه د دوی او سپو دپاره نه دي پیدا شوي... د یهود او غیر یهود تر مینځ هیڅ قسم دوستی نشته، ځکه هغوی د انسانانو په نسبت له خرو سره زیات شباهت لري. د غیر یهودیانو کوروڼه د یهودیانو د پاره، د حیواناتو د طبیلو په شانې دي. غیر یهودیان، مردار خوړګان دي چې د یهودیانو د خدمت دپاره پیدا شوي دي!

٤- غیر یهودي نیك وګڼې ووژنې، یهودي ته حرام دي چې غیر یهودي له مرګ څخه بچ کړي او یا چې ځګې ته لویږي نجات ورکړي، بلکه پکار دی چې په کانې یې پسې وو لي.

۵- اسرائیلو ته رواده بلکې په دوی باندې واجب دي چې غیر اسرائیلي ووژني، مال یې غصب یا غلا کړي!

٦- د غیر یهودي مال د میراث په شانې ده، یهودي حق لري هغه د ځان کړي!

۷- خدای تعالی یهودیانوته اجازه ورکړې چې د غیر یهودیانو دشتمنیو مالکان شي!

۸- د عیسایانو وژل داسې یو کار دی چې په یهودیانو باندي یې عملي کول لازم دي!

۹- موږ یواځې هغه غوره ملت یو چې خدای تعالی په ځمکه کې پیدا کړی یو...

خدای تعالی هغه مهرباني چې په موږ باندې یې کړې ده، د انسان په شانې حیوانات چې غیر یهودي ملتونه دي، ځموږ دپاره یې پیدا کړي دي. او موږ ته یې تابع کړي دي. دا ځکه چې الله تعالی ته معلومه وه چې موږ دوه ډوله حیواناتوته اړه لرو: یو قسم حیوانات ګونګ لکه څاروي، او مارغان او بل قسم خبري کوونکي (انسانان) لکه ! عیسایان، مسلمانان، بودایان، او نور د ختیځ اولویدیځ ملتونه چې ځموږ د خدمت دپاره یې پیدا کړي دي. موږ یې په ځمکه کې خپاره کړي یو چې دوی ته له شا لنګښي ورکړو، د دوی واګې په لاس کې ولرو، او د دوی له فنونو څخه په خپله ګټه کار واخلو.

ځکه په موږ باندي واجب دي چې خپلې ښایسته لوڼانې د دوی پاچاهانو، وزیرانو او مشرانوته ورکړو، خپل ځامن د نورو مذهبونو د پیروانو په مینځ کې دننه کړو څو هغه په جګړو اخته کړی او قدرت په لاسونوکي واخلي، او په دې توګه له دوی څخه پښېړه ګټه تر لاسه کړو.»

یهودیت په خپل ځان کې ددې صلاحیت نه لري چې نړیوال نظم او اداره را منځ ته کړي او نړی ته عدل، انصاف، برابري، ورورولي او سوله راولي، بلکه دوی بر عکس د پروګرام له مخې غواړي په نړۍ کې د جګړې، نفرتونو او بدیو اوروونوته لمن ووهي څو خپل منحوس شخصي اهداف ترلاسه کړي، د اسرائیلو هغه «یهودي دوکتورین (Doctrine)» یا اصول چې یهودي مشرانو دیوه اسرائیلي دولت د جوړولو او په بین المللي سیاست باندي د کنټرول کولو دپاره یې د مختلفو انجمنونو د تشکیل له لاري د اساسنامې په شکل را مینځ ته کړي دي، چې یوه برخه یې د «پروتوکول» په نوم په کتابي شکل را مینځ ته شوي او په مختلفو ژبو ژباړه شوې دي.

په لومړي «پروتوکول» کې یې لیکلي دي: «څوك چې غواړي! دیوې ټولنې مشري ترلاسه کړي، باید له فریب، دوکې او منافقت څخه کار واخلي، ځکه هغه څه چې په انساني نړۍ کې نیکي او فضائیل بلل کیږي، خو د سیاست په نړۍ کې هغه ته رذایل ویل کیږي، د بیلګې په توګه امانت، صداقت، یورتګي، په وعده باندي وفا او داسې نور چې نیك اخلاق او د انساني کمالاتو جز دي، خو د سیاست په نړۍ کې له لویو دښمنانو څخه حسابیږي. دا دوله صفتونه او خویونه یواځې د «جوییمانو» (غیر یهودیانو) په هیوادونوکې اهمیت لري، یهودیان هیڅ مجبوریت نه لري چې هغه په ځان باندي ومني. حق د قدرت تر سیوري لاندې ده د حق کلمه، داسې یو فکر دی‌چې درست اساس نه لري...»

په څوارلسم «پروتوکول» کې یې لیکلي دي: «کله چې ځموږه حکومت را مینځ ته شي، بې له دې چې په خپل یوه خدای باندې ایمان ولرو، بل هیڅ ډول مذهب نه پیژنو.... او د دې هدف دپاره باید د نورو ټولو معتقدات له مینځه یوسو.»

د یهودیانو د بدو نیتونو او استعماري پروګرامونو له کبله د ټل دپاره نړۍ د جګړو په اور کې سوځله کیږي چې زیاتره دوی خپله په کې سوځیدلي دي. په آلمان، روسیه او نورو هیوادونوکې د یهودانو عامه وژنه د دوی د بدو اعمالو د سزا ښې بیلګې دي.

خدمات دینی و اجتماعی علماء...

اهداف اولی تحریك را حبیبی چنین نشاندهی میکند: (جوانان مشروطیت دوم، در خط مشی خود یك نوع وسعت، کشش، و کوشش را جای داده بودند. که مطابق ایجابات عصر بود و خود را در قالب محدود مرامهای رفقای سابق مشروطیت محدود نمی ساختند).

در اینجا حبیبی تقریباً بصراحت به انحراف و تخطی مشروطیت خواهان ثانی از اصول و اهداف اولی تحریك اشاره داشته که لابد آن وسعت نظر مطابق ایجابات عصر که حبیبی به آن اشاره کرده همانا دوری جستن از اساسات اسلامی اهداف و مرامهای تحریك اول بود که آنرا حبیبی یك قالب محدود دانسته که مشروطیت خواهان ثانی بعد از کودتای درباری و بدست گرفتن زعامت سیاسی کشور به رهبری امان الله خان به تعمیل آن ایجابات عصر اقدام داشتند و خواستند که نقش قدم جنبشهای فکری ترك و عرب حاکمیت اسلام را رفع و دین را از سیاست و زنده گی اجتماعی تجرید و به جای آن قوانین و اساسات سیکولریستی غربی را جایگزین سازند که در این زمینه قدمهای مؤثر چندی گذاشتند که مورد تائید و جلب نظر قدرتهای کفری و در رأس آنها لنین رهبر یگانه انقلاب سوسیالیستی خدا نا شناس قرار گرفت و مایه تعجب و تحسین آن ملحد، نظام کودتائی مشروطه خواهان دوم قرار گرفت. که حبیبی به آن چنین اشاره مینماید: (وسعت نظر و حرکات انقلابی این گروه - که شخص امان الله خان عامل و فراز آورنده، آن بود، به درجه، جلب توجه دنیا را کرد، که لنین اولین سازنده حکومت سوسیالیستی در باره، آن گفته بود: یك شاهزاده زمامدار مطلق مشرق زمین، امروز نسبت به نابینه، کارگر انگلستان مترقی تر است.

سه شاخه جنبش مشروطیت ثانی :

در کتاب (ظهور مشروطیت و قربانیان استبداد در افغانستان) به آن سه گروه چنین اشاره شده است:

الف - یکی از این دسته ها عبارت بود از: دسته، سیاسی شخصیت های داخل ارگ شاهی به گفته حبیبی گروه سری دربار.

ب - دسته دوم: تند روها (چپیها) این دسته اکثر به دور عبدالرحمن خان لودین یا تاج محمد خان بلوچ پغمانی یا میرغلام محمد غبار جمع میشدند و بنام جوانان افغان یاد میشدند.

ج- دسته، سومی: اعتدالیون، رهبری این دسته از منورین را میرصاحب (سیدقاسم خان) به عهده داشت. گفته شد که این سه شاخه مشروطیت به طرز دید و وجهه، مختلف و جدای مبارزه از هم تقسیم شدند که در کتاب متذکره به آن چنین اشاره شده در ص ۲۴۳: (اما روی همرفته تندروها از خود دارای اجتماعاتی بودند و اعتدالیون جلسه ها و صحبتهای علیهده داشتند).

در کتاب متذکره به وجه مشترك هدف و مبارزه که در عموم میان اوشان موجود بود (سقوط رژیم) چنین اشاره گردیده است: (البته موجودیت و بر سر اقتدار بودن امیر حبیب الله خان برای پیش برد آن مرام عایق بزرگ بوده، که باید جایش را بصورت حتمی شخصیت منور و ترقی خواه حلقه سلطنتی اشغال نماید....

منورین چشم به شهزاده، جوان ترقی پسند یعنی امان الله خان دوختند... پلانی را که دسته، ارگ شاهی برای از بین بردن حبیب الله خان و بمسند نشاندن امان الله خان طرح و ترتیب داده بودند کامیاب گردید).

باید یاد آور شد که از نگاه فکری و ذهنی هر سه این گروه تحت تأثیر محمود طرزی قرار داشتند و برای اهداف به خصوص ناسیونالیستی سیکولریستی که آن شخصیت در نظر داشت در خدمت آن به شکل و نوعی قرار گرفتند.

(ادامه دارد)

د طالبانو د اسلامی تحریك مرستیال ملامحمد ربانی له شریعت اوونیزی سره په مرکه کی

پوښتنه : په داسې حال کې چې دهیواد دوه دري برخه له اسلامي تحریك سره ده او دهیواد دټولو جهادي مشرانو درباني دبې قید او شرط لرې کیدلو غوښتنه وکړه چې نورنښي کولاي په داخل او خارج کې دهیواد قانوني نماینده جمهور ریس شي ،دنړي دهیوادونو او بین المللي موسساتو څخه به ستاسې غوښتنه څه وي ؟

ځواب : موږ دنړۍ له ټولو هیوادونو په‌ځانګړې توګه له اسلامي هیوادونو او له ټولو بین المللي مؤسساتو په خصوصي توګه له ملګرو ملتونو څخه غوښتنه کوو چه درباني حکومت دي نوربه رسمیت نه پیژني .او د کابل په اداره باندی دي زور واچوي چې قدرت پریږدي ، او په هیواد کې دي له وینو توییولو او تاروا جګړوڅخه لاس واخلي . نن له رباني سره دملت حمایت نشته ده د حکومت بقا او په هیواد کې دجګړو دوام یواځې له دي کبله ده چې دده حکومت نړۍ‌په غیر قانوني توګه په رسمیت پژندلي او دهیواد کرسي یې دده په لاس کې ورکړي ده څو دپیسو په بدل کې خلك دجګړې میدان ته ور تیله کړي او هیواد نور هم له تباهۍ سره مخامخ کړي .

پوښتنه : کابل له ائتلافي‌اداري سره دحزب اسلامي دیووالي په‌هکله ستاسو نظر څه دي ، او دائتلاف په نتیجه کې د روانو جګړو په مقابل کې داسلامي تحریك دمجاهدینومورال څنګه دي ؟

ځواب : دحزب او کابل اداري دائتلاف په هکله باید ووایم چې دهیواد ځلور کلنې جګړې ، دهیواد دو یجاړ ولو او په زرګونو هیواد والو دوژلو او بې عفته کولو اساسي عامل همدغه دوه ډلې وي ، کوورنه یې چور کړل،دولتي شتمنۍ یې لوټ کړې ، دهیواد او جهاد ابرو او عزت یې له خاورو سره خاورې کړې، ددوي موجوده ائتلاف یواځې ددوي دپاره ده چې دطالبانو داسلامي تحریك دهغو فعالیتونو مخه ونیسي چې په هیواد کې یې امنیت راوستي او اسلامي شریعت یې تطبیق کړی دی. نو د دوی ائتلاف په حقیقت کې د خدای (ج) او رسول(ص) په خلاف او د هیواد د نوری تباهۍ د پاره ده‌چې انشا ء الله بریالی کیږی به نه.

د طالبانو د اسلامی تحریك نظامی او سیاسی مورال د پخوا په نسبت ډیر لوړ او د داو ور دی، تاسی ولیدل چې په کابل کی یی د دوی اړودتمرضونه په شا ‌ و تمبول او سخت تلفات یی ور په برخه کړل، او د هیواد په لویدیځ کی یی دغرو ولایت په پشیره توګه له لاسه ووت چې دشه د اسلامی تحریك بیرغ اوس رپیږی. او دا ټول د لوی خدای(جل جلاله) په مرسته او د هیواد مؤمن ملت په حمایت سره وشول.

پوښتنه: په هیواد کې د اسلامی تحریك کارکونکو او د هیواد عامو خلکوته دی پیغام څه دی؟

ځواب: د طالبانو د اسلامی تحریك کارکونکوته ځما پیغام دادی، چی ځموږ د ټولو کامیابیو او بریالیتوبونو اساس تقوی او خوف من الله(ج) دی، تاسی ټول باید تقوی او خوف من الله(ج) په ټولو کارونوکی د ځان اساسی شعار او عملی نمونه وګرځوئ، هر کار د الله (جل جلاله) د رضا دپاره وکړئ. او د هیواد عامو خلکوته مو پیغام دا دی چی ځانونه عملی مسلمانان کړی او تش په نوم مسلمانان نه واوسی. د اسلام ټول احکام په ځان باندی عملی کړی، د هیواد نجات او نیکمرغۍ دپاره باید د طالبانو اسلامی تحریك سره هراړخیزی مرستی وکړی. د ظالمانو، مفسدانو په خلاف په جهاد کی ورسره ملګری شی■

د طالبانو د اسلامي تحریک د عالي شورئ په غونډه کښي:

د نظامي چارو په اړه لازم او پاخه تصمیمونه ونیول شول

له کندهار څخه زموږ خبریال خبر راکوي چې د جوزا په ۲۱ نیټه د اسلامي تحریک د مرستیال محترم ملا محمد رباني په مشرۍ د اسلامي تحریک عالي شورئ غونډه وکړه.

په دې غونډه کې د هیواد د سیاسي او نظامي حالاتو نتیجه ګیري وشوه او لازم تصمیمونه ونیول شول.

زموږ خبریال خبر راکوي د عالي شورئ ددې غونډې په تعقیب په ۱۳۷۵/۳/۲۲ نیټه د امیر المومنین ملا محمد عمر «مجاهد» په مشرۍ د اسلامي تحریک نظامي شورئ غونډه وکړه.

د غونډې برخه والو امیر المومنین ته د نظامي پر مختګونو په اړه پوره معلومات ورکړل په نظامي چاروکې دلا ښه انسجام او ډسپلین په اړه امیر المومنین مؤظفینو ته لازمي لارښوونې و کړې او د غونډې په پای کې د نظامي چارو په اړه لازم او پاخه تصمیمونه ونیول شول.

* * *

د عظیم الشان قرآن اعجاز

د عظیم الشان قرآن د اعجاز په خاطر سیلاب خپله مخه بدله کړه

د پاورۍ خبر ځایونو د خبر له مخې د تیرې جمعې په ورځ د پکتیا په خروټو پاندې د زیات باران اوریدو له امله د ګورمې رود توپاني شو او زیات مالي او ځاني تاوانونه یې ورسول.

ددغه یې ساري سیلاب توپاني څپو (؟) غ روغ کلي او د ګروندو زیاتې ځمکې منځه یوړله او داسې تاوانونه یې ورسول چې په تیرو څو کلونو کې مثال نه دی لیدل شوی.

خو کله چې ددغه توپاني سیلاب توپاني څپو د رودغاړي ته نژدې پروت یو کور تر تهدید لاندې راوست نو د کور له خلکو څخه یله لار ورکه شوه عظیم الشان قران یې را واخیست په سرېې ونیو او د سیلاب مخې ته ودریدل او سیلاب د عظیم الشان قرآن په خاطر خپله مخه بدله کړه او غه کور او د کور اوسیدونکو له تباهي څخه نجات ومومند.

په داسې حال کې چې د خدای ج له پاک قران څخه سیلاب هم حیا کوي، نو انسانانو په تیره بیا مسلمانانو ته ښایي چې نه یوازې ددغه پاک کتاب درناوی و کړي بلکې د هغه د ټولو اوامرو او نواهیو په مراعات سره خپل ژوند عیار کړي. دا دی د عظیم الشان قرآن اعجاز او دا دی ددغه پاک کتاب په وړاندې د بې روحه موجوداتو عکس العمل.

د طالبانو اسلامي تحریک د هیواد د نورو عام المنفعه

ادارو ترڅنګ د ښوونې او روزنې او اطلاعاتي وسایلو

په اړه هم خپلې هلې ځلې ګړندۍ کړې

اوس په غزني کې نو قوي راډیو ستیشن د فعالیدو په درشل کې دی

له غزني څخه زموږ خبریال خبر راکوي چې په هغه ولایت کې تعلیمي اداری او د مطبوعاتو ټولې وسیلې فعالې شوې.

خبریال زیاتوي په غزني کې هم لکه د هیواد د نورو سیمو په شان د خوارلس کلن جهاد او د څلور کلونو خپل منځي جګړو له امله د ښوونې او روزنې او مطبوعاتو ټولې وسیلې له منځه تللي او ددغو ادارو کاروونه په ټپه دریدلي وو.

خبریال وایي چې د طالبانو اسلامي تحریک د هیواد د نورو عام المنفعه ادارو د بیا فعالولو تر څنګ زیار باسي چې تر ټولو د مخه د ښوونې او روزنې او اطلاعاتي وسایلو په اړه خپلې هلې ځلې چټکې او ګړندۍ کړي او دا دی په غزني کې یې هم د ښوونې او روزنې ټول ښوونځي بیرته پرانستل او د مطبوعاتو په برخه کې یې راډیو بیا فعاله کړه.

خبریال زیاتوي په غزني کې د طالبانو د اسلامي تحریک مسئولینو مسلکي اشخاصو ته وظیفه ورکړه چې په چټکۍ سره خپلې ورسپارل شوې وظیفې سرته ورسوي، د همدغو فني او مسلکي کسانو د هلو ځلو له امله اوس دغه اداري فعالې دي. د ښایي لرغوني ورځپاڼې خپل نشراتي فعالیت پیل کړی دی، اوس په غزني کې یو قوي راډیو ستیشن د فعالیدو په درشل کې دی.

خبریال زیاتوي چې همدا اوس په کندهار کې راډیو فعاله شوې، د طلوع افغان اوونیزه خپریږي او یو شمیر مجلې تر چاپ لاندې دي، ددې ترڅنګ په فراه او نیمروز کې هم راډیو ستیشنونو او جراید د خپریدو په درشل کې دي.

هغه له دري کاله مړيني نه وروسته هم له خپلې کوټنې سره او سیږي

نوای وقت (پاکستانی ورځپاڼه) ۲۳ مئی:

د هغې نبض ولاړ دی، د زړه حرکت بند دی او ښایي هم بنده ګا، خو بیا هم د هغې بدن د ژوندي انسانانو په شانې ګرم دی، او زیاتره د هغې دبدن پندونه خوځنده معلومیږي. دهغې لور هره ورځ د هغې جامې وراغوندي، په مرطوب ټوکر د هغې لاس او مخ ورپاکوي، خو هغه د هیڅ جزئ ځواب نه ورکوي. دري کاله کیږي چې هغه په یوه ځانګړي بستر پاندې پرته ده، ډاکټرانو هغه مړه بللې ده، خو دهغې په مخ، لاسونو، پښو او دبدن په هیڅ برخه پاندې کوم کوټ یا داغ نه دی پیدا شوی، او نه خو د جسم په رنګ کې کوم بدلون راغلی دی. بدن یې د ژوندي انسانانو په شانې تر او تازه ښکاره کیږي.

دغه حیرانونکې او نه منونکې «په مرګ کې ژوند» پیښه، شاید د نړۍ لومړۍ معماوي چې حل کیدای نشي. دغه واقعه د چین په اوسیدونکې ښځې «زهوب» پاندې پیښه شوې ده. دا دری کاله کیږي چې په خپل بستر پاندې داسې پرته ده لکه په خوب چې ویده وي.

دې ته د سلګونو خلك راځي او والله تبارك و تعالی دغه د قدرت نښه‌ګوري او د حیرانتیا په سیند کې لاهو کیږي. په لومړۍ ځل چې یې د روغتون څخه کورته راوړه نو دهغې له بدن څخه سره مایع ماده بهیدل پیل شوه او چې لمسې یې بې پاکول نو هغه ځای چې نوك یې وریاندې ولګید زخمي کیده خو په څو شیبوکې به زخم بیرته روغ شو. خو وروسته د هغې جسم وچ شو.

د هغې لمسی وایي چې د «زهوب» بدن وچ ده، په هغې کې هیڅ ډول بدبويي نشته، د حیرانتیا خبره داده چې دهغې غاړه نرمه ده او سرېې په پښپړه توګه حرکت کوي. ددې بدن یې په پنځم د جولایی ۱۹۹۳ کال کې ددې پلرنی الکیشان ته یوړ، د بدن د حرارت درجه ۲٤ درجې وه، او د رطوبت درجه یې اوړۍ کې لوی په سلوکې وه. د نړۍ د ماهرانو توجه ددغې پیښې په لور اوښتې ده، او د جسد د ساتلو ماهرین په ځانګړې توګه پلټنې کوي چې داسې ولې شوي؟

حاجي ملا عباس روسي هیئت ته وویل:

که روسان زموږ د ملت د بندیانو سرنوشت معلوم کړي او په دې اړه زموږ ملت ته قناعت ورکړي موږ تیار یو چې روسي بندیان خوشي کړو

له کندهار څخه زموږ خبریال خبر راکوي چې د تاتارستان د بهرنیو چارو وزیر حاجي تیمور په مشرۍ د روسانو یو هیئت کندهار ته ورسید.

هیئت د عالي شورئ په میلمستون کې له لوی څارنوال حاجي ملا محمد عباس «اخند» او د عالي شورئ له یو شمیر غړیو سره وکتل او د روسي بندیانو د خوشي کولو غوښتنه یې وکړه. دوی وویل ددغو روسي بندیانو خلاصون په طالبانو پورې اړه لري.

لوی څارنوال حاجي ملا محمد عباس «اخند» د هغوی په ځواب کې وویل: روسي بندیان زموږ له ملت سره بندیان دي او د هغوی خلاصون او نه خلاصون د ملت کار دي. دا کار په طالبانو پورې اړه نه لري.

ده وویل: که روسان زموږ د ملت د بندیانو سرنوشت معلوم کړي او په دې اړه سم دغه روسي بندیان هم خوشي کړو.

حاجي تیمور د لوی څارنوال په ځواب کې وویل موږ په دې اړه همیشه طالبانو ته مثبت ځواب ویلی بیا وایو چې په روسیه کې افغاني بندیان نشته او نه په دې اړه مسکو کوم معلومات په لاس کې لري.

لوی څارنوال وویل دا خبره ته موږ منلی شو او نه یې نور څوك مني چې مسکو بې خبره دی ځکه دا افغانان د هغه کمونستي رژیم له خوا نیول شوي چې د روسانو ملاتړ ورسره و او هم پخپله د روسانو د مداخلې په وخت کې دغه کار شوی دی داځنګه کیدای شي چې یو څوك دې یو کار وکړي خو بیا دې له هغه څخه بې خبره وي اوس موږ یوځل بیا له روسیې څخه غواړو چې زموږ د بندیانو په اړه معلومات راکړي.

ده یو ځل بیا له روسیې څخه وغوښتل چې نور دې زموږ په هیواد کې مداخله بنده کړي او د افغانیو له چاپولو څخه دې ډډه وکړي ځکه زموږ هیوادوال یې له سختو اقتصادي ستونزو سره مخامخ کړي دي حاجي تیمور په ځواب کې وویل: زه به دا خبره روسي مشرانو ته ورسوم.

د کتنې په پای کې هغوی ته اجازه ورکړې شوه چې په مسکو کې د روانو انتخاباتو لپاره د اوو تنو روسي بندیانو رایه معلومه او د هغوی ووټ واخلي.

په کندهار کې د واکسین د تطبیقولو د کمپاین کورسونه پرانستل شول

په تیره اونۍ کې د واکسین د تطبیقولو د کمپاین په اړه دوه تربیوي کورسونه د کندهار د عامې روغتیا د کنفرانسونو په تالار کې پرانستل شول.

زموږ خبریال له کندهار څخه خبر راکوي چې په نوموړو کورسونو کې ۱۸۰ تنو واکسیناتورانو روغتیایي کارکوونکو او داوطلبه کسانو ګډون کړی و.

نوموړي کورسونه د نړیوالې روغتیایي مؤسسې په مرسته جوړ شوي چې په پرانستونکو مراسمو کې یې دعامې روغتیا رئیس د نړیوالې روغتیایي مؤسسې مسؤول او دیونسف د مؤسسې مسؤول د روغتیا په اړه اوږدې او هر اړخیزې خبرې وکړې.

د دغو کورسونو فارغین به دواکسین په هغه کتلوي کمپاین کې برخه واخلي چې د جوزا په ۲۷ نیټه پیل کیږي او پنځه ورځې دوام کوي.

د حزب وحدت د سیاسي چارو د دفتر ویاند محمداله حیدري بي بي سي ته وویل:

د دولت دا ادعا بالکل واقعیت نه لري چې استاد کریم خلیلي له مسعود سره کتلي دي

د دولت دا غوښتنه د حزب وحدت د مرکزي شورئ ترمنځ تر بحث لاندې ده، خو تصمیم نه دی نیول شوی

له څو ورځو نه راپدیخوا نړیوالو خبري منابعو داسې خبرونه خپاره کړي چې ګوندې د حزب وحدت مشر محترم کریم خلیلي په بامیانو کې له مسعود سره کتلي دي، خو د جمعې د ورځې ماښام په اته بجو د بي بي سي په پښتو خبرونه کې د حزب وحدت د سیاسي چارو د دفتر ویاند محترم محمد اله حیدري مرکه خپره شوه او ده وویل:

د دولت دا ادعا بالکل واقعیت نه لري چې استاد کریم خلیلي له مسعود سره کتلي دي که څه هم رباني دوه ځلې غوښتنه وکړه چې دغه شان لیدنه کتنه تر سره ګي. خ

ده د بي بي سي د یوې بلې پوښتنې په ځواب کې وویل: که څه هم مسعود غوښتي دي چې د کابل د اداری له کنټرول څخه بهر په کومه سیمه کې له خلیلي سره وګوري، خو د دوی دا غوښتنه اوس د حزب وحدت د مرکزي شورئ د غړیو ترمنځ تر بحث لاندې ده، خو تصمیم لانه دی نیول شوی چې آیا دغه لیدنه کتنه دې وشي.

یوه اندازه جعلي درمل کشف او له منځه یوړل شول

د کندهار له ولایت څخه زموږ د خبریال د خبر له مخې په هغه ولایت کې د امنیتي ساتو له خوا یوه زیاته اندازه جعلي درملل نیول شول.

شوی او د خلکو د ژوند د تباه کولو په غرض بازار ته عرضه کیدل د هغه ولایت د با احساسه ځوانانو له خوا کشف او ونیول شول. مسئولین تر تحقیق لاندې دي او جعلي درمل

په کابل کې د یو دولتي مامور میاشتنی معاش تر پنځو امریکایي ډالرو څخه زیات نه دی

په کابل کې ځینې خلك د خپلو اولادونو پلورلو ته ځانونه اړ ویني

په تیرو څو میاشتو کسې د افغانیو قیمت د بهرنیو اسعارو په مقابل کسې خپل ارزښت دلاسه ورکړیدی کټونکو ددې کار پړه د پیسو په بې حسابه چاپ اړولی ده او وائي چې حکومت عاید نلري چه خپل مصارف برابر کړي پدې حالاتو کښې ملکي خلکوته په بیساري توګه تاوان رسیدلی دی بله دا چې د هیواد په ځینو ځایونو کښې د پاکستاني روپۍ چلند ته لاره هواره شویده.

پدې اړه له افغانستان څخه راپور را رسیدلی او هغه دا چې له جګړې سره عایداتي سرچینې وچې شوی دي. او د هغو خلکو وضع چې د جګړې سره سروکار نلري ورځ په ورځ خرابیږي. صنعت او کرنه د جګړې له امله له تاوانونو او زیانونو سره مخامخ شوي او په همدغو شرایطو کې د مغانیو بې دریغه چاپول د افغانیو د ارزښت په راټیدلوکې ډیر لاس لري په کابل کښې

د څیړونکو له خولې پوځي قوماندانان او د پیسو معامله کوونکي د سیاسي او پوځي حالاتو د خبرې له امله په خپله ګټه د افغانیو په پلورلو او پیرودلو کې لوی لاس لري خو د ... لږ پوځي خلك له اقتصادي ستونزو سره لاس او ګریوان دي د یو دولتي مامور میاشتنی معاش تر پنځو امریکائي ډالرو ډیر ندی او دا ... یې یوازې دوچې دوه‌ی خرڅ ته پوره کوي. کابل ته په (۱۰۰) کسی (۹۰) خوراکي او د سونډ توکي له باندې نه راځي چه په بهرنیو اثارو لاس ته راځي، د افغانیو په چټکۍ سره د راټیدو له امله دغه توکي خورا ګران دي د ښار په سرکونو او رستورانونو او د ښمنو خلکو د کوروڼو مخ ته دسوالګرو شمیره له ورایه ښکاري ویل کیږي چه ځینې خلك د خپلو اولادونو پلورلوته ځانونه اړ ویني.

د څیړونکو له نظره که د کابل دغه اقتصادي حالت دوام و مومي نو ددې ښار اسټوګن به له تدریجي مړینې سره مخ شي داسې ښکاري چه د نړیوالو مرستندویو مؤسسو مرستې لږې دي او واکمن د خلکو ستونزونه د حل دلارو چارو په فکر کې نه دي او نه غواړي چې د خلکو ستونزې له منځه ولاړې شي.

کابل ښاریان له زیاتو اقتصادي ستونزو سره لاس او ګریوان دي

دوی یو داسې مثبت بدلون ته سترګې په لاره دي چې له دغه بحران څخه نجات ورکړي.

له کابل څخه زموږ خبریال خبر واکوي چې هلته د خوراکي او استهلاکي موادو بیې دومره پورته تللي دي چې څوك یې د رانیولو توان نه لري، که څه هم دولتي مامورین ثابت معاش لري، خو ایله دومره کولای شي چې د خپل معاش په پیسو یو قوتی غوړي واخلي.

خبریال زیاتوي چې د کابل د عامو خلکو ورځنی ژوند له زیاتو ستونزو سره مخامخ دی او اوس یوه داسې مثبت بدلون ته سترګې په لاره دي چې له دغه بحران څخه نجات ورکړای شي.

کابل ښاریان هم لکه د نورو هیوادوالو په شان د طالبانو د اسلامي تحریک بریالیتوب ته غوږ غوږ دي او لاس په دوعا دي چې ددغه ژغورنده اسلامي تحریك د کامیابۍ په نتیجه کې به ملت له دغه بحران څخه نجات و مومي.

له یو شمیر سیلاب ځپلو کورنیو سره مرسته وشوه

زموږ خبریال د زابل له ولایت څخه خبر راکوي چې د هغه ولایت له ۱۰۵ سیلاب ځپلو کورنیو سره مرسته وشوه.

خبریال زیاتوي په دې وروستیو وختونوکې د پرله پسې بارانونو له امله د زابل په ځینو سیموکې سیلابونه راغلل ا یو شمیر کورنۍ یې زیانمنې کړې.

له دغو زیانمنو او ځپل شویو کورنیو سره د هغه ولایت د سرې میاشتې ټولنې یوه اندازه خوراکي مواد، کمپلې او نورو ضروري موادو مرسته وکړه چې د خلکو له خوا په مننې سره قبوله شوه.

په هلمند کې اووه شپیته میله سپکه او درنده وسله ونیول شوه

زموږ خبریال د هلمند له ولایت څخه خبر راکوي چې د هغه ولایت په مربوطاتوکې د امنیت د ټینګښت په غرض دوسلو ټولول جریان لري.

خبریال زیاتوي چې په دې لړکې له خپلو وسلو سره ویشول شول او هم د ګرشك په ولسوالۍ کې د امنیتي ځواکونو له خوا ٦٧ میله سپکه او درنده وسله له رباني اندازې مهماتو سره ونیول شوه، په دې وسله کې ۹ میله کلاشینکوف، دوه میله ویشتونکي راکټ، ٦ میله چریکي راکټ، پنځه میله اتوماتیك ټوپك، ١٤ میله ماشیني ټوپك، ١٤ میله ګلبني ټوپك، یو میل ټانك ویشتونکی ١٦ میله سل ډزي ره میله ٨٦ ټوپونه او دوه میله داشکي.

وسله امنیتي ځواکونو ته سپارل شوې او مسئولین د قانوني مراجعو تر تحقیق لاندې دي.

د رباني اداره د فساد یوازیني...

حضرت صبغت الله «مجددي» وو،:د رباني اداره د فشار یوازیني سبب دی نو باید استعفی وکړي، دا غوښتنه دزموږ پخوانیو دری کلونو غوښتنه ده، موږیه تر هغه پوري درباني اداری پر ضدولاړیو تر څو پوري چې دغه اداره له منځه تللې نه وي.

حضرت صاحب وویل: دا ددې معنی نه لري چې موږ د رباني ذاتي دښمنان یو بلکې دا ددې له افغان ملت سره د دښمنۍ له امله ده او موږ د ملت د خلاصون او په هیواد کې د اسلامي نظام د راوستو لپاره د رباني پر خلاف مبارزه کوو.

ده وویل: له کومې ورځې نه چې رباني د جمهوري ریاست پرچوکۍ ناست دی افغانان له بدبختۍ سره لاس او ګریوان دي او تر څو پورې چې دی په قدرت کې وي افغانستان به له دې بدبختۍ څخه خلاص نه شي.

د پېر شکر ګذار یم...

هر کلی وواېه.

حضرت صبغت الله «مجددي» چې کندهار ته ورسید نو نېغ یې د خرقې مبارکې جامع جومات ته ځان ورساوه او هلته یې د جمعې له لمانځه نه مخکې لمونځ کوونکو ته په وینا کې وویل: لوی خدای «ج» ته ډیر شکر ګذاریم چې کندهار ته په داسې وخت کې دراتك توفیق راکوي چې طالبانو په دې ځمکه اسلامي نظام پلي کړی او بشپړ امنیت یې تامین کړي دی، نو زه په ډاګه وایم چې پرټولو خلکو ددغه امنیت د تامین شکر واجب دی.

حضرت صاحب زیاته کړه: په کابل کې د رباني اداره یوه غیر شرعي او غیر قانوني اداره ده چې د افغانستان د تباهي او بربادۍ سبب ګرځیدلی او زموږ د څوارلس کلن جهاد ثمره یې په اوبو لاهو کړې ده.

ده د خپلو خبرو په پای کې په مقدس جهاد کې د «مجددي» کورنۍ نه هیریدونکې قرباني یادې کړې او هغه یې د لمانځلو وړ وبلله.

قاضي حسین احمد...

یې نوی مورچې ونیولی.

او په هندي ائتلاف به یوازې دومره وکړی شي چې د قابضو د تش په نامه اداري موده یو څو ورځې نوره هم اوږده کړي او دافغانانو د وینوتویولو ګراف نورهم لوړ کړي.

دغه راز عصمت (قانع) په خپل اخباري بیان کې ویلي چې اخوانیانو له نورو جهادي ګوندونو څخه خپله لاره بېله کړه.

او دیته اماده شول چې د جنګي سنګرونو د تودو ساتلو دپاره بهرني منابع په اسانه توګه جلب کړای شي چې دایو غیر ملي عمل او د افغانانو تر منځ د جنګونو یو بل مانور دی.ده زیاته کړه چې قاضي حسین احمد د پاکستان په انتخاباتو کې چې څو ځله ماته خوړلې اوس غواړي چې د کابل سره په معامله کولو افغانان په خپلو مینځو کې سره په جنګ کړي او په دې کار سره سیاسي او اقتصادي بهره برداري وکړي. ځرنګه چې قاضي حسین احمد پاکستانیانو استفراق کړی دی نو دغه رنګه افغانانوته هم‌مردود دی.

مولوي فقیر محمد «خنجري»...

د شریعت د اوونیزې مسئول مدیر او نور کارکوونکي محترم خنجري صاحب ته ددغې درندې وظیفې د ورسپارلو له امله مبارکي وایي او په دې درنده وظیفه کې ورته د لوی خدای (ج) له دربار څخه د لازیاتو بریالیتوبو ... ګوي..

ښاغلی خنجري د جهاد د فرهنګي سنګر له هغو مجاهدینو څخه دی چې په ډېره میړانه او سپېڅلتیایي همیشه خپله ورسپارل شوې وظیفه په صداقت او ایمانداري سره سرته رسولې ده.

رباني وایي چې د جګړې ټولو برخه والو ډلو ته هیئتونه لیږي

دکابل د تش په نامه اداري مشر رباني کابل کښې یو خبري کنفرانس ته دوینا په ترځ کښې وویل چه د افغانستان دکورنۍ جګړې ټولو برخوالو دلوته هیئتونه لیږي او له هغوی نه به وغواړي چه د ښاغلی حکمتیار د حزب اسلامي په شان راشي او هیواد کې دسولې د راوستو په خاطر ګډې خبرې اترې وکړي او په پای کې د عبوري حکومت په اړه فیصله وکړي پداسې حال کې چه رباني د جنرال عبدالرشید دوستم د جنبش ملي په خلاف د جهاد فتوی ورکړیوه نو اوس به د جهاد دغه فتوی له هغه سره د کتلو او مشورې کولو اجازه ورکړي؟

* * *

بهترین چانس برای ادامهٔ تحصیل

لیسه عالی حبیبیه بمنظور جلوګیری از ضیاع وقت شاګردان عزیز، دوره جدید تعلیمی را برای شاګردان صنوف چهارم الی دوازدهم بصورت فوق العاده از تاریخ اول جون ۱۹۹٦ با تسهیلات ذیل آغاز نموده است:

۱- شاګردان از پرداخت داخله معاف اند.

۲- شاګردانیکه در صنوف خویش بدرجه، اول، دوم و سوم کامیاب شوند، فیس اخذ شده، شان در ختم دوره، تعلیمی بطور جایزه دوباره برای شان اعاده میګردد.

۳- آغاز درس ساعت ٦ صبح است.

٤- ثبت نام شاګردان همه روزه ادامه دارد.

این لیسه، با وسایل مکمل لابراتواری (کیمیا، فزیك و بیالوژی) مجهز بوده و همچنان شرایط آب سرد صحی نیز برای شاګردان عزیز مد نظر ګرفته شده است.

نوت: شاګردان بی بضاعت از پرداخت فیس نیز معاف اند.

آدرس: ایستګاه تمبوان، متصل فیصل ورکشاپ، پشاور.

یادونه

ښایي ستاسو ایمان به اجازه در نکړي چې دا ډول سپېڅلې پاڼې په ناوړو ځایونو کښې وغورځوي.

(اداره)

SHARIAT WEEKLY

Publisher : Islamic Movment of Taliban of Afghanistan.

Editor -in- Chief : Movlavi Ahmad Jan.

Tel : 840378

PAK - RUPE A/C, CD. No. 1694 -69.

Habib Bank LTD. Tehkal Bala Branch (Code 0267)

Peshawar, Pakistan

د ګډون بیه	شپږمیاشتنی	کلنی
پاکستان	Rs. 200	Rs. 400
د خلیج هیوادونه	SR. 150	SR. 300
اروپا او امریکا	$: 75	$: 150